# زیان‌منونکي اقلیت ډلې او د افغان سولې بهیر
# د پالیسی خلاصه

## ډېرې مهمې پوښتنې

د افغانستان زیان‌منونکي اقلیت ډلې د سولې پروسې په اړه څه نظر لري؟ دغې پروسې څخه د هغوی اصلي اندېښنې او غوښتنې څه دي؟ څنګه باید دغو اندېښنو او غوښتنو ته لاسرسی وشي؟

## زمینه

له شاوخوا څلورو لسیزو جګړو او بې‌ثباتیو وروسته، په لویه سطحه افغانان او سیاستوال له سولې ملاتړ کوي. د ډېرو خنډونو له شتون سربېره، د ۲۰۲۰ کال د فبروري میاشتې په ۲۹مه د طالبانو او امریکا متحده ایالتونو ترمنځ د هوکړې له لاسلیک او د همدغه کال سپټمبر میاشت کې د بین‌الافغاني خبرو له پیل وروسته، سولې ته د لاسرسي هیلې ډېرې شوي دي. تراوسه سیاسي پیغام، په ځانګړې توګه د نړیوالې ټولنې له خوا دا وه، چې راتلونکې کې دې د سولې بهیر ټول‌شموله ووسي او د ټولنې مختلفې ډلې او اقلیتونه دې په کې شامل شي. ډېره تمه کېږي چې د سولې بهیر او سیاسي پایلې یې، د اقلیتونو په ځانګړې توګه د کوچنیو اقلیتونو او ښځو او ځوانانو په ګډون د افغانستان د مختلفو سیاسي او ټولنیزو ډلو غوښتنې پوره کړي او دغه ډلې یې په رڼا کې ځانونه ووینې.[1] دغه شناخت له ۱۹۸۷ کال راهیسې د افغانستان د سولې هڅو کې د پرلپسې ماتو او همدارنګه د نړیوالو معیارونو او تجربو له تاریخ څخه څرګندیږي، چې د تلپاتې سولې لپاره پر ټول‌شمولیت او د وسله‌والو شخړو له تکرار څخه په مخنیوي ټینګار لري. همداراز نړیوالې تجربې ښیي، چې د سولې پروسې او هوکړې هغه مهال موثره دي، چې په کې د اقلیت ډلو حقوق تضمین شي.

داسې ښکاري، چې د سولې اوسنی بهیر کې د تلپاتې سولې لپاره د اوږدمهاله بنسټ رامنځ ته کولو پر ځای، لنډمهاله هوکړو ته د رسېدو لپاره لېوالتیا ډېره ده او د ولس د انزوا په بیه د سیاسي څېرو پر نظر او لیدلوري ټینګار کېږي. په ډېر احتمال سره دغسې یوه کړنلاره کوچنی اقلیت ډلې څنګ ته او د سولې رواني پروسې څخه یې لرې کوي، چې بلاخره په دغې پروسې د خلکو باور کموي. لکه څنګه چې افغانستان ۲۰۰۱ کال کې د بُن په کنفرانس سره هم تجربه کړه، هېواد کې د مسلطو ډلو ترمنځ د جوړجاړي له لارې د سولې پلټل لامل کېږي، چې د زیان‌منونکو او کوچنیو اقلیت ډلو لیدلوري او ګټې له پامه وغورځول شي.

---

[1] افغانستان کې لویې قومې ډلې عبارت دی له: پښتنو، تاجکانو، هزاره‌ګانو او ازبکانو څخه. کوچنی اقلیتونه عبارت دی له: ایماق، قزلباش، پشه‌یی، ترکمن، بلوڅ او براهوی، عرب، سادات، نورستانی، واخی، قرغیز، ګوجر، اسماعیلی شیعه، سیک، جټان او نور اقلیتونه. د دغې څېړنې او وړاندیزونو د موندنو له جزییاتو څخه د اطلاع لپاره، د بشر د حقونو او د تاوتریخوالی د له‌منځه وړلو موسسې بشپړې څېړنې ته، چې عنوان یې دی «د *ټول‌شموله، تلپاتې او دوامداره سولې په لور: د افغانستان د کوچنیو اقلیتونو په رسمیت پېژندل، مشروعیت ورکول او پیاوړی کول*» مراجعه وکړئ.

## تلپاتي سوله؟ له پامه غورځول، ځنګ ته کول او د پروسي اعتبار

لکه څرنګه چي له تاوتريخوالو او بې‌ثباتيو څخه نسبت نورو ډلو ته، معمولاً زيان‌منونکي ډلي ډېر زيان ويني، نو په دې توګه تر نورو زيات هېواد کي د جګړي پايته رسېدو او سولي څخه ملاتړ کوي. يوه وروستۍ څېړنه چي د بشر د حقونو او د تاوتريخوالي د له‌منځه وړلو موسسي او د مدني ټولني او د بشر د حقونو شبکې له خوا په ګډه ترسره شوې ښيي، چي تقريباً ټولي کوچنۍ اقليت ډلي د سولي پروسي متمرکزه مديريت او پرې د سياسي څېړو له کنټرول څخه انديښنه ښيي. هغوی همدارنګه وايي، د طالبانو له خوا د اقليتونو ځورولو تاريخچې ته په پام به، دغه ډلي د اقليتونو د اساسي حقونو او ازاديو لپاره جدي خطرات رامنځ ته کړي.

دغه اقليت ټولني، خپل ټوليز وجدان کي قرباني کېدو او انزوا سره مخ کېدو څخه ژور احساس لري. په همدې ترتيب، هغوی احساس کوي چي د سولي روانه پروسه کي د نړيوالي ټولي او افغان حکومت له خوا له پامه غورځول شوي او هغوی سره خيانت شوی دی. دغه ټولني د سولي پر روانو خبرو بې‌باوره شوي او په دې اند دي، چي غږ يې نه اورېدل کيږي. د ښکېلو خواوو ډېر کم‌شمېر کسانو هڅه کړې، چي دغو اقليتونو ته نږدې شي او د هغوی انديښني او غوښتني واوري. دغي موضوع ته زمونږ نظرپوښتنه کي انعکاس ورکړل شوی، لکه څنګه چي ۸۰ سلنه ځواب ورکونکو ويلي، سولي پورې اړوند فعاليتونو کي دې ښکېل شي. دې سره، زياترو دغو ځواب ورکونکو (۷۹.۱ سلنو) څرګنده کړې، چي د سولي اړوند هيڅ يوه جريان کي ونډه نه ده ورکړل شوې.

*ايا تراوسه مو د سولي اړوند کوم پروګرام کي ګډون کړی دی؟*




۱ انځور: د سولي پروسه کي د ښکېلو ځواب ورکونکو سلنه

د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا هغوی احساس کوي، چې دوی او یا ټولنو ځخه یې د سولې پروسه کې استازیتوب کیږي یا نه، د زیاترو ځواب یې منفي وو.

*احساس کوئ چې تر کومه کچه د سولې پروسه کې تاسو څخه استازیتوب کیږي؟*




۲ انځور: د سولې پروسه کې د ښکېلتیا په تړاو د ځواب ورکونکو ټولنو سلنه

د سولې له بهیر څخه د بهر پاتې کېدو په تړاو دغه ډول لیدلوري، هغه نیمګړي جوړښتي شرایط دي، چې ملي سیاسي پروسو کې د اقلیتونو د غږ اورېدل محدودوي. د افغانستان متمرکزه سیاسي نظام، جغرافیایي پراکندګي او نامنی هغو عواملو څخه دي، چې په ملي سطحه پر سیاسي پروسو د اقلیتونو د اغېز کولو مخه نیسي. تر ډېره د دغو اقلیتونو نفوذ د ولایتونو او محل په سطحه باقي پاتې کیږي. د دغو ننګونو د حل لپاره، دغه څېړنه کې زیاتره ګډون کونکو د ځانګړي بنسټ د میکانیزمونو غوښتنه کړې، چې له لارې یې په ملي سطحه د اقلیتونو غږ تشخیص او واورېدل شي.

## د اقلیتونو هیلو او اندېښنو ته نه پام

د کوچنیو اقلیتونو تر ټولو مهمه اندېښنه، د سولې هوکړو تر پښو لاندې کېدل او هېواد کې د یوې کورنۍ جګړې پیښېدل دي. د سولې هوکړو کې د اقلیتونو حقونو ته نه پام، د افغانانو لاس کې د دغه پروسې د مالکیت نهشتون، د سولې له بهیر څخه د اقلیتونو بهر پاتې کېدل، د ښځو د حقونو نقض، د سیمې هېوادونو لاسوهنه، د سولې پروسې ته د ژمنتیا لپاره د طالبانو نهلېوالتیا او د فقر او د اقتصادي وضعیت خرابېدل، د اقلیت دلو نورو اندېښنو څخه دي.

تر ډېره د اقلیت ډلو غوښتنې توپیر لري. خو اوربند د هغوی تر ټولو مهمه غوښتنه ده، چې د سولې په تړاو د ټیت پرګ اقلیتونو او د کوچنیو اقلیت ډلو لپاره د عدالت غوښتو زمینه برابروي. دغه کار هغوی سره مرسته کوي، چې د سولې پروسه کې اصلي ښکېلو خواوو ته د لاسرسي له لارې، د خپلو ټولنو لپاره د ټیرو ۱۸ کلونو لاسته راوړنې خوندي وساتي. واقعیت دا دی، چې یادو ډلو ته د خپلو اندېښنو او غوښتنو طرحه کولو لپاره اړین وخت او فرصت نه ورکول کیږي. افغان حکومت او نړیواله ټولنه باید

دغې مسلې ته جدي پام وکړي. د اقلیت ډلو غړي په طبیعي ډلو د تاوتریخوالي ختمولو او د سولې داسې پروسې څخه ملاتړ کوي، چې په کې د اقلیتونو د حقونو په ګډون د بشر بنسټیز حقونه تامین شي او اقلیت ډلې وکولی شي، د خپل دود او فرهنګ په مطابق ژوند وکړي.

## کوچنې اقلیتونه او طالبان: د تضمین او ډاډ ورکول

طالبانو د اقلیتونو په ځانګړې توګه د کوچنیو اقلیتونو په تړاو، له مبهمو ځرګندونو پرته، کوم ښکاره دریځ نه دی غوره کړی. وروستی څېړنه کې، ډېرې داسې اندېښنې وړاندې شوې، چې د سولې یوه هوکړه کې چې په اساس یې ممکن حکومت کې د طالبانو رول غښتلی شي، دغه احتمال به زیات شي، چې د اقلیتونو اساسي حقونو ته پام ونه شي. دغه اندېښنې تر ډېره د طالبانو د ایډیالوژۍ له ډول څخه، چې په کې اجتماعي، فرهنګي او مذهبي تنوع ځای نه لري، سرچینه اخلي. همدارنګه دغه اندېښنې د هغو تاوتریخوالو په دلیل دي، چې طالبانو پخوا د اقلیت ډلو پر وړاندې ترسره کړي دي. اقلیت ډلې په ځانګړې توګه دیني اقلیتونه تر نورو ډېره وېره لري، چې یو ځل بیا به د طالبانو محافظه‌کاره حکومت جوړ شي او د هغوی د اجتماعي، فرهنګي او دیني پېژندګلوۍ په مطابق د ژوند کولو لپاره د هغوی حقوق به خطر سره مخ کړي.

## ډېر مهم وړاندیزونه

طالبانو سره د سولې رواني پروسې، دغه بهیر کې د افغان ټولنې د ټولو برخو ګډون، ښکېلتیا او اصلاح لپاره مهم فرصتونه برابره کړي دي. دغه بهیر د سولې پر څخو د بیا کتنې لپاره په یوه کس منحصر فرصت رامنځ ته کړی، ترڅو په وسیله یې د سولې بریا او ملت جوړونه تامین شي.

## جمهوري اسلامي افغانستان ته وړاندیزونه

- د افغانستان جمهوري اسلامي دولت باید عملي او اساسي تدابیر غوره کړي، ترڅو وکولی شي د هغو ډلو څنګ ته کېدو ته لاسرسی وکړي، چې په فرهنګي او ټولنیز لحاظ زیان‌منونکي دي.
- د سولې پروسې پرېکړه نیونه کې دی د اقلیت ډلو استازو ته ونډه ورکړل شي او په همدې ترتیب هغوی څخه وغوښتل شي، چې خپلې اندېښنې او غوښتنې راټولې او مطرح کړي.
- اقلیت ډلو څخه دې یوه لویه شورا جوړه شي چې وکولی شي د سولې بهیر کې د زیان‌منونکو ډلو له حقونو څخه دفاع وکړي او د هغوی لپاره د عدالت غږ پورته کړي.
- د زیان‌منونکو اقلیت ډلو له حقونو څخه د نظارت او غږ پورته کولو لپاره دې، ملي بنسټونه غښتلي شي. په ځانګړې توګه دې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون کې د اقلیتونو له حقونو څخه د خوندیتوب لپاره یوه ځانګړې برخه جوړه شي.

## طالبانو ته وړاندیزونه

- طالبان باید نسبت دغو پراخو اندېښنو ته، چې ایډیالوژیکي دریځ او کړنې یې افغانستان کې د اقلیت ډلو حقونو تر پښو لاندې کوي، مسوولیت منونکي ووسي. هغوی باید رسماً او په ښکاره توګه د اقلیتونو د حقونو پر وړاندې خپل دریځ اعلان کړي او تضمین کړي، چې پرته له کوم تبعیض د ټولو ښاریانو اساسي حقونه او ازادۍ خوندي ساتل کېږي.
- طالبان دې تر خپل کنټرول لاندې سیمو کې د اقلیت ډلو په نښه کولو څخه ډډه وکړي او اقلیتونو څخه د خوندیتوب لپاره عملي اقدام وکړي.

## نړیوالې ټولنې ته وړاندیزونه

- نړیواله ټولنه باید مرسته او تضمین وکړي، چې د اقلیت ډلو له حقونو څخه خوندیتوب، د سولې نړیوال مرکز او پراختیایي هڅو کې ځای لري.
- طالبانو ته د نړیوالې ټولنې لاسرسي ته په پام، دوحه کې د طالبانو مشرانو پر وړاندې د کوچنیو اقلیتونو له اندېښنو او ګټو څخه دفاع وکړي. نړیواله ټولنه دې د سولې پر پروسې داسې نظارت ولري، چې راتلونکې کې هر ډول حل‌لار، د اقلیت ډلو د حقونو په حفظ او رسمیت پېژندو مشروط شي.

## د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د له‌منځه وړلو موسسې په اړه

دغه موسسه ۲۰۰۹ کال کې د یو شمېر حقوق‌پوهانو، د بشري حقونو او د مدني ټولنې د فعالانو، څېړونکو او د پرمختیا حوزې د متخصصینو له خوا، چې زیاترو یې غیردولتي موسسو سره دنده ترسره کوله، جوړه شوه. د بشر د حقونو او د تاوتریخوالي د له‌منځه وړلو موسسه د بشري حقونو، د ښځو حقونو، د سولې ټینګښت او ښې حکومتولۍ په حوزو کې خپلو پرلپسې هڅو سره، د مدني ټولنې بنسټونو کې له مخکښانو څخه ده.

ویب سایټ: www.hrevo.org
ایمیل: Email: info@hrevo.org